






**فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا**

**د نشر نيټه : ۴ سپتمبر ۲۰۱۳ ميلادی**

# د علامه قيام الدين « خادم » څلور دبرشم تلين و لمانځل شو!



دغه غونډه چې د افغانستان د هنر او کلتور د ودې ټولنې لخوا د افغانستان سیاسي مبصر، شاعر، لیکوال او دپښتو ادب ستوري استاد علامه قیام الدین خادم د څلور دېرشم تلین په اړوند رابلل شوې وه وړمه ورځ ، د میدیوتیک افغانستان په انګړ کې د لسګونو شاعرانو، لیوالانو، سیاسي مبصرینو، قومي مشرانو او فرهنګیانو په ګډون سره ونمانځل شوه.

ګډونوالو په خپلو خبرو او مقالو کې د ارواښاد علامه خادم پر ژوند، فکر، عمل ، سیاست او ادبي هڅو ویناوې واورولې او د ده تشه یې د پښتو ادب، سیاست او جرګو کې یوه لویه خلا وبلله او د ده د فکر او عمل په پیاده کولو کې یې له ټول افغان ولس غوښتنه وکړه، چې د ده دسیاسي اوټولنیزو افکارو څخه په خپل ژوند کې ګټه واخلي او دخپل هیواد د ابادی لپاره متې رابډ وهي.
ګډونوالو په خپلو خبرو کې د افغانستان دولت په دې تورن کړ، چې د استاد مولانا قیام الدین خادم د تلین او د ده دیاد لمانځلو کې چوپ پاتې شوي دي.
د دوی په خبره دافغانستان دولت نه یوازې چې د مولانا خادم د فکر او عمل یاد غونډه او د ده اثار چاپ کړي په نورو کارونو بوخت شوی دی.

ارواښاد استاد علامه خادم دپښتو ادب هغه ستوری دی چې دپښتو ادب،سیاست او نورو ټولنیزو مسلو په پار بیلابیل اثار لیکلي دي، چې ځیني یې چاپ او ځیني یې ناچاپ پاتې شوي دي.
د یادولو ده، چې د افغانستان د هنر او کلتور د ودې ټولنې لخوا له دې وړاندې ګڼ فرهنګي غونډې او مشاعرې رابلل شوې دي او لاهم په همدې ډګرکې یې چارې پرمخ رواني دي.
یادونه : دغونډې بشپړ رپوټ مه هیروئ

****

فرید احمد « تسکین »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org